د چارو اداره

اوولسمه گڼه | د چنګاښ میاشت | د پیل کال ۱۴۰۳-۱۴۴۶

# اداره امور

- د چارو اداري عمومي رياست د پاليسۍ او ستراتيژۍ رئيس د لاسي صنايعو پراختيا امارتي شرکت رئيس سره وکتل
- جلسه تعقیبی به منظور تطبیق فرمان شماره ۱۷ عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی برگزار شد
- د چارو اداري عمومي رئيس؛ پرمختللي لابراتوارونه د جرمونو په کشف کې مهم رول لري
- رئیس تسهیل سرمایه گذاری از فابریکه های تولیدی هرات باز دید کرد

بسم الله الرحمن الرحيم

# د چارو ادارې عمومي رياست مياشتنۍ مجله

**د امتياز خاوند:** د چارو ادارې عمومي رياست

**مسؤول مدير:** مفتي احسان الله بدر

**کتنپلاوی:** مفتي نجيب الله حکيمي، محمد قاسم طوطاخېل، ډاکټر سيف الله خالد، ضياء الحق رفاه

**خبريالان:** محمد شعيب رحيمي، محمد الياس احمدي، فريدالله عزام، عنايت الله ابراهيم خېل

**انځورگر:** محمد عمر عليزی

**ډيزاينران:** خان وطنيار، سيف الرحمن وردگ



www.aop.gov.af
media.aop.afg@gmail.com
مرمرينه ماڼۍ، کابل افغانستان
0202143351

# رئیس تسهیل سرمایه‌گذاری اداره امور

## با نماینده شرکت‌های گازمین انترنیشنل و ماستر بیگارنا انرژی دیدار کرد

هفتم محرم‌الحرام / دوم سرطان

مولوی انجنیر احمد ضیاء خالد، رئیس تسهیل سرمایه‌گذاری ریاست عمومی اداره امور در دفتر کارش با فیض‌محمد نوری، نماینده شرکت‌های گازمین انترنیشنل و ماستر بیگارنا انرژی (سویدن آبی) و هیئت همراه‌اش دیدار و گفتگو کرد.

در این دیدار مولوی انجنیر احمد ضیاء خالد، ضمن ارائه معلومات همه‌جانبه پیرامون فرصت‌ها، ظرفیت‌ها و زمینه‌های مساعد سرمایه‌گذاری در افغانستان از علاقه‌مندی شرکت‌های متذکره برای سرمایه‌گذاری در کشور استقبال نمود و بر فراهم‌سازی تسهیلات لازم و همکاری همه‌جانبه اداره امور در راستای رشد سرمایه‌گذاری و توسعه اقتصادی تأکید ورزید.

از جانب دیگر فیض‌محمد نوری، نماینده شرکت‌های گازمین انترنیشنل و ماستر بیگارنا انرژی گفت که این شرکت ها به هدف مشارکت در توسعه اقتصادی افغانستان، ایجاد فرصت‌های کاری، انتقال دانش و تکنالوژی و توسعه زیربناهای اساسی آماده سرمایه‌گذاری در بخش های مختلف از جمله بازسازی و احداث میدان‌های هوایی، خطوط راه‌آهن، شهرک سازی، نصب توربین‌های گازی و زغالی، استخراج و پروسس معادن، صنایع فلزی، پالایش نفت خام، احداث بندهای آبی و پروژه‌های آبیاری، توسعه خدمات صحی، تولید ادویه، معارف و تحصیلات عالی می‌باشد.

در پایان جلسه، مولوی انجنیر احمد ضیاء خالد، ضمن قدردانی از طرح‌های ارائه‌شده، وعده تسهیل در روند سرمایه‌گذاری در چارچوب قوانین و اصول نافذه کشور را نمود و این نشست با دعای خیر پایان یافت.

# د سرمایه گذارۍ د تسهیل رئیس د شهرت چپلکو جوړولو او ګرین صافي پلس کیمیاوي او عضوي سرې تولیدي فابریکو څخه لیدنه وکړه

د چارو اداري عمومي ریاست د سرمایه ګذارۍ د تسهیل رئیس مولوي انجنیر احمد ضیاء خالد د تخنیکي پلاوي په ملتیا د باریکاب صنعتي او کرنیزو پارکونو کې د شهرت چپلکو جوړولو او ګرین صافي پلس کیمیاوي او عضوي سرې تولیدي فابریکو څخه لیدنه وکړه.

محرم الحرام شپږمه/چنګاښ لومړۍ

د چارو اداري عمومي ریاست د سرمایه ګذارۍ رئیس د یادې لیدنې پر مهال وویل چې اسلامي امارت د کورنیو تولیداتو د ودې، د خصوصي سکتور د پیاوړتیا او د پانګونې د پراختیا لپاره کلک هوډ لري او هڅه کوي چې د اړوندو ادارو په همغږۍ د پانګه‌والو او تولیدوونکو پر وړاندې شته ستونزې او خنډونه حل کړي؛ ترڅو په هېواد کې د تولید کچه لوړه، کاري فرصتونه زیات او د اقتصادي ځان بسیاینې بهیر لا چټک او پیاوړی شي. د یادو فابریکو رئیس حاجي عبدالجبار صافي د سرمایه‌ګذارۍ د تسهیل ریاست مسؤولینو ته د ښه راغلاست ترڅنګ د فابریکو د فعالیتونو په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې د شهرت د څپلکو جوړولو فابریکه هره ورځ شاوخوا ۱۵۰ درجنه چرمي څپلکې تولیدوي. نوموړي د ګرین صافي پلس کیمیاوي او عضوي سرې تولیدي فابریکې په اړه وویل چې دغه فابریکه به په نږدې راتلونکې کې رسماً ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. د ده په وینا، د یادې فابریکې له پرانیستې سره به د هېواد کرنیز سکتور اړتیاوې په کور دننه تر ډېره بریده پوره شي او د بهرنیو هېوادونو سرې پر وارداتو به د بزګرانو تکیه راکمه شي او د هېواد بېلابېلو ولایتونو د خاورې او کرنیزو اړتیاوو له مخې به په کور دننه معیاري کیمیاوي او عضوي سرې تولیدېږي. هغه زیاته کړه چې په یاده فابریکه کې به شاوخوا ۷۵۰ هېوادوالو ته د مستقیم او غیرمستقیم کار زمینه هم برابره شي.

په پای کې د سرمایه‌ګذارۍ د تسهیل رئیس د تخنیکي پلاوي په ملتیا د یادو فابریکو د تولیدي ماشینونو او بېلابېلو برخو څخه لیدنه وکړه.

# رئیس تسهیل سرمایه‌گذاری از فابریکه های

## رُب حبیب رضایی و سوپرکولا بازدید کرد

هفتم محرم‌الحرام / دوم سرطان

مولوی انجنیر احمد ضیاء خالد، رئیس تسهیل سرمایه‌گذاری ریاست اداره عمومی امور با هیئت تخنیکی این ریاست از فابریکه‌های تولید رُب حبیب رضایی و سوپرکولا در پارک‌های صنعتی و زراعتی باریکاب بازدید کرد.

رئیس تسهیل سرمایه‌گذاری ریاست عمومی اداره امور در جریان این بازدیدها گفت: برای رشد اقتصادی فراهم‌سازی تسهیلات در بخش سرمایه‌گذاری، تأمین امنیت و جلب اعتماد سرمایه‌گذاران مهم است. به گفته وی، مسئوولان امارت اسلامی تلاش می‌کنند در روشنایی اصول شرعی زمینه مناسب را برای سرمایه‌گذاران فراهم سازند تا سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی با اطمینان خاطر در کشور سرمایه‌گذاری نمایند و در آبادی و پیشرفت افغانستان نقش فعال داشته باشند.

سپس مسئوولان این فابریکه‌ها در صحبت‌های خویش بیان کردند که تولیدات این فابریکه‌ها بر اساس نیاز بازار و مطابق با معیارهای لازم تولید می‌شود و تلاش دارند تا تولیدات داخلی تقویت شده و با کیفیت بهتر به بازار عرضه گردد. همچنان آنها درباره پلان‌های آینده فابریکه‌ها به هیئت یادشده معلومات ارائه کردند که شامل ساخت دو فاز جدید برای توسعه تولید بود تا ظرفیت تولید افزایش یافته و فرصت های کاری برای شهروندان ایجاد شود.

قابل یادآوری است که فابریکه سوپرکولا روزانه ۵۰۰ کارتن نوشیدنی تولید دارد که شامل پنج نوع نوشیدنی غیرالکلی است. همچنان کارخانه تولید رب حبیب رضایی که با سرمایه‌گذاری ۵ میلیون دالر امریکایی تأسیس شده است و روزانه ۵۰۰ تُن بادنجان رومی را به رُب تبدیل می‌کنند.

# د چارو اداري عمومي رياست د پالیسۍ او ستراتېژۍ رياست په مشرۍ د همغږۍ غونډه ترسره شوه

د چـارو اداري عمومـي رياسـت د پالیسـۍ او سـتراتېژۍ رئيـس، مفتـي عبدالواحـد عثمـاني، پـه مـشرۍ د کرنـې، اوبـو لګولـو او مالـدارۍ وزارت لـه اسـتازو سره د طرحـو، پالیسـيو او سـتراتيژيو د تدويـن پـه برخـه کـې د همکاريـو د پياوړتيـا پـه موخـه د پالیسـۍ او سـتراتېژۍ رئيـس پـه کاري دفتر کې د همغږۍ غونډه ترسره شوه.

چهارشنبه، محرم‌الحرام اتمه/ چنګاښ دربيمه.

مفتـي عبدالواحـد عثمـاني د غونـډې موخـه د کرنـې لـه سـکتور سره د اړونـدو طرحـو، پالیسـيو او سـتراتيژيو د تدويـن او پراختيـا پـه برخـه کـې د دواړو ادارو ترمنځ د لا زياتې همغږۍ رامنځته کول وبلل.

نومـوړي د هېـواد پـه اقتصـادي پرمختـګ کـې د کرنـې سـکتور پـر اهميت ټينګار وکړ او ويـې ويـل؛ افغانستان يـو کرنيـز هېـواد دی او د هېـواد ډېـره برخـه وګـړي پـه کرنـه پورې تـړلي دي؛ لـه همدې امله هـر هغـه فعاليت چـې د کرنـې د ودې او پراختيـا لامـل ګرځـي، مـوږ چمتـو يـو چـې پـه هغـه برخـه کـې هـر اړخيـزه همـکاري او همغږي وکړو.

وروسـتـې د کرنـې، اوبـو لګولـو او مالـدارۍ وزارت اسـتازي، حشـمت الله شـهراني، د کرنيـزو طرحـو، پالیسـيو او سـتراتيژيو د تدويـن پـه برخـه کـې د وزارت د برنامـو، اړتيـاوو او لومړيتوبونـو پـه اړه مفصـل معلومـات وړانـدې کـړل. نومـوړي د وزارت د برنامـو اغېزنـاک تطبيـق لپاره د چـارو اداري عمومـي رياسـت او د کرنـې، اوبـو لګولـو او مالـدارۍ وزارت ترمنځ پـر همغـږۍ ټينـګار وکـړ او د چـارو اداري عمومـي رياست د هر اړخيزې همکارۍ غوښتنه يې وکړه.

د غونـډې پـه پـای کـې پرېکـړه وشـوه چـې د دواړو ادارو د کرنـې برخـې متخصصيـن بـه د ستونزو د حـل او د طرحـو او پالیسـيو د لا ښواينـې پـه موخـه پـه دوامداره توګه ګډې غونډې ترسره کوي.

يـاده غونـډه چـې د قرانکريـم پـه تـلاوت پيـل شـوې وه؛ د خير په دعاء سره پای ته ورسېده.

# برنامه نیازسنجی آموزشی کارکنان اداره امور برگزار گردید

یکشنبه، ۱۲ محرم الحرام/ هفتم سرطان

برنامه نیازسنجی آموزشی کارکنان ریاست عمومی اداره امور توسط ریاست انستیتوت خدمات ملکی با اشتراک رؤسا، معاونین و کارشناسان بخش‌های مختلف اداره امور در تالار جلسات این اداره برگزار شد.

اسدالله هارون، رئیس انستیتوت خدمات ملکی ریاست عمومی اداره امور ضمن تشریح اهمیت ارتقای ظرفیت کارکنان خدمات ملکی، گفت: «در سال ۱۴۰۵ هـ.ش برای ده هزار تن از کارکنان سطوح مختلف در مرکز و ولایات برنامه های آموزشی مختلف جهت ارتقای ظرفیت برگزار گردید و در سال جاری پلان داریم تا برای ۲۰ هزار تن از کارکنان خدمات ملکی برنامه‌های آموزشی برگزار کنیم».

در این پروسه، ده ها تن از سطوح مختلف مدیریتی شامل رؤسا، آمرین و کارشناسان اشتراک داشتند تا پس از تجزیه و تحلیل معلومات جمع آوری‌شده، نیازهای آموزشی به‌گونه دقیق تشخیص و برنامه‌های آموزشی متناسب با آن طراحی و تطبیق گردد.

این برنامه با تلاوت آیات قرآنکریم آغاز و با دعای خیر به پایان رسید.

## د چارو ادارې عمومي رئيس:

## مطالعه د علم، فکر او ټولنې د پرمختګ بنسټ بلل کېږي

۱۴۴۸هـ. ق محرم‌الحرام ۱۱مه/۱۴۰۵هـ. ش چنګاښ ۶مه.
د چارو ادارې عمومي رئيس شيخ الحديث مولوي نورالحق انور، د اطلاعاتو او کلتور وزارت له لوري د کتابتونونو او مطبعو د مسؤولينو او استازو لپاره جوړه شوې غونډه کې، ګډون او وينا وکړه.
ياده غونډه کې د چارو ادارې عمومي رئيس وويل: الله تعالی د انسانانو د هدايت لپاره اسماني کتابونه نازل کړي چې د پيغمبرانو له لارې خلکو ته رسول شوي دي. هغه زياته کړه؛ هر څوک چې د الله تعالی کتاب او د رسول الله ﷺ سنتو ته مراجعه وکړي، د ګمراهۍ او بې‌لارۍ څخه خوندي پاتې کېږي او د حق پر لاره د ټينګښت لپاره بايد له دغو سرچينو زده کړه او ګټه واخلي.
شيخ الحديث مولوي نورالحق انور زياته کړه: الله تعالی انسان ته عقل ورکړی او د عقل غوښتنه دا ده چې انسان تل د علم او پوهې د زياتولو هڅه وکړي. د هغه په وينا، د دې موخې د ترلاسه کولو تر ټولو غوره لار د کتاب لوستل او دوامداره مطالعه ده.
نوموړي د مطالعې پر ديني، علمي، فکري او اخلاقي ارزښتونو خبرې وکړې او ويې ويل چې مطالعه د علم د ترلاسه کولو او د ټولنې د پرمختګ مهم بنسټ دی. همدارنګه يې د مناسب کتاب د ټاکلو، د مطالعې د دوام، يادښت اخيستلو او په عمل کې د زده کړو د پلي کولو په اړه سپارښتنې وکړې او ګډونوال يې وهڅول چې مطالعه د خپل ورځني ژوند نه بېلېدونکې برخه وګرځوي.
ياده غونډه چې د قرانکريم په تلاوت پيل شوې وه؛ د خير دعاء سره پای ته ورسېده.

# رئیس تسهیل سرمایه‌گذاری از فابریکه‌های کابل کیبل و لایف پرل فارما بازدید کرد

۱۴ محرم‌الحرام / ۹ سرطان

مولوی انجنیر احمد ضیاء خالد، رئیس تسهیل سرمایه‌گذاری ریاست عمومی اداره امور همراه یک هیئت تخنیکی از کارخانه‌های تولید کیبل‌های برقی کابل کیبل و تولید دوایی لایف پرل فارما در پارک‌های صنعتی کابل بازدید کرد.

رئیس تسهیل سرمایه‌گذاری ریاست عمومی اداره امور در جریان این بازدیدها گفت که مساعد بودن فضای مناسب اقتصادی و تأمین امنیت سراسری در کشور، سبب سرمایه‌گذاری شمار زیادی از سرمایه‌گذاران در افغانستان شده است. وی افزود که مسئوولان امارت اسلامی افغانستان تلاش می‌ورزند تا با فراهم ساختن تسهیلات بیشتر، فرصت‌های مناسب‌تری را برای سرمایه‌گذاری ایجاد کنند.

سپس مسئوولین این دو فابریکه در مورد فعالیت‌ها و تولیدات فابریکه‌های خویش معلومات همه‌جانبه ارائه کردند و گفتند که فابریکه‌های مذکور برای صدها هموطن ما زمینه کار را نیز فراهم کرده است.

در این بازدید مسئوولان هر دو فابریکه مشکلات خویش را در زمینه کمبود برق و نبود زمین کافی برای توسعه کارخانه‌ها با رئیس تسهیل سرمایه‌گذاری در میان گذاشتند که از طرف رئیس تسهیل سرمایه‌گذاری برای حل آن‌ها نیز اطمینان داده شد.

# د چارو ادارې عمومي رياست د پاليسۍ او ستراتيژۍ رئيس

## د لاسي صنايعو پراختيا امارتي شرکت رئيس سره وکتل

د چارو ادارې عمومي رياست د پاليسۍ او ستراتيژۍ رئيس، د ياد رياست د تخنيکي پلاوي په ملتيا د لاسي صنايعو د پراختيا امارتي شرکت دفتر کې د ياد شرکت له رئيس، مولوي محمد ابراهيم نبيل او خصوصي سکټور استازو سره د ياد شرکت د چارو غوره والي، پراختيايي پلان او شته ستونزو د حل په موخه ناسته ترسره کړه.

محرم الحرام ۱۵مه / چنګاښ ۱۰مه

د غونډې پيل کې د لاسي صنايعو د پراختيا امارتي شرکت رئيس د لاسي صنايعو د ودې او پراختيا په موخه خپل وړانديزونه شريک کړل، چې پکې د لاسي صنايعو لپاره د معياري کمپلکس جوړول، د ښځينه صنعتکارانو لپاره ځانګړې باغ رامنځته کول، د قالينو د پشم پروسس لپاره مناسب ماشينونه برابرول، د څرمنو پروسس برخه کې کورنۍ پانګونې جلبول او د کابل ـ مسکو ترمنځ د لاسي صنايعو ځانګړې مغازې جوړول شامل وو.

مفتي عبدالواحد عثماني، د ياد شرکت رئيس او خصوصي سکټور استازو د وړانديزونو تر اورېدو وروسته وويل چې د پاليسۍ او ستراتيژۍ رياست له لوري ترتيب کېدونکي پراختيايي پلان کې به ستاسو ټول وړانديزونه ځای پر ځای شي؛ ترڅو د ياد شرکت توليداتو کيفيت غوره او له نړيوال سټنډرډ سره برابر شي.

د غونډې پای کې د پاليسۍ او ستراتيژۍ رئيس د لاسي صنايعو له بېلابېلو مغازو څخه ليدنه وکړه او صنعتکارانو سره يې د توليداتو د پراختيا او کيفيت لوړونې په اړه خپلې سپارښتنې او نظريات شريک کړل.

# رئیس امور فرهنگی و اجتماعی

# با علمأ، بزرگان قومی و جوانان ولایت تخار دیدار کرد

چهارشنبه، ۲۲ محرم‌الحرام ۱٤٤۷هـ.ق / ۱۷ سرطان ۱٤۰۵هـ.ش

مفتی محمد ادریس انوری، رئیس امور فرهنگی و اجتماعی ریاست عمومی اداره امور با شماری از علماء، بزرگان قومی و جوانان ولایت تخار به منظور حل مشکلات اجتماعی آنان در تالار جلسات اداره امور دیدار کرد.

در آغاز این نشست نور محمد حیدری، معاون ریاست امور فرهنگی و اجتماعی یادآور شد که براساس فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی دروازه ریاست امور فرهنگی و اجتماعی اداره امور به روی همه باز است و تا اکنون این ریاست صدها جلسه با اقشار مختلف جامعه برگزار کرده و به مشکلات آنان رسیدگی صورت گرفته است.

از جانب دیگر، مفتی محمد ادریس انوری، رئیس امور فرهنگی و اجتماعی اداره امور گفت: هدف امارت اسلامی بهبود وضعیت و خدمت به مردم است و مسؤولین امارت اسلامی متعهد هستند که از لحاظ مادی و معنوی نیازمندی های مردم را مرفوع سازند. وی همچنان افزود که رهبری امارت اسلامی برنامه های بسیار خوبی دارد که با تکمیل آن مشکلات مردم حل خواهد شد.

علماء، بزرگان قومی و جوانان ولسوالی‌های مختلف ولایت تخار ضمن ابراز خرسندی از ریاست امور فرهنگی و اجتماعی اداره امور، افزایش دارالعلوم‌ها، اعمار تعمیر مکاتب، ارتقای شفاخانه‌ها، حفر چاه‌های عمیق، احداث سرک‌ها، ایجاد استیشن‌های برق، نمایندگی‌های بانک‌ها، سردخانه ها، پارک‌ها و میدان‌های ورزشی را از جمله خواست های خویش مطرح کردند.

رئیس امور فرهنگی و اجتماعی ریاست عمومی اداره امور مشکلات و نظریات اشتراک‌کنندگان جلسه را به دقت استماع نمود و اطمینان داد که مشکلات و پیشنهادات مردم تخار را به منظور رسیدگی با ادارات مربوط شریک ساخته و در حل آنها تلاش می ورزد.

این نشست با تلاوت قرآن‌کریم آغاز و با دعای خیر به پایان رسید.

# د چارو ادارې عمومي رئيس؛

## پرمختللي لابراتوارونه د جرمونو

## په کشف کې مهم رول لري

د چارو ادارې عمومي رئيس شيخ الحديث مولوي نورالحق انور د کورنيو چارو وزارت، د کريمنال تخنيک رياست اړوند د لابراتوارونو لوی مديريت د بيولوژي او ډي ان اې لابراتوار پرانيستغونډه کې ګډون او وينا وکړه.

۱۴۴۸هـ.ق کال محرم الحرام ۲۲مه/چنګاښ۱۶مه.

د چارو ادارې عمومي رئيس شيخ الحديث مولوي نورالحق انور په همدې مناسبت جوړې شوې غونډې ته وويل؛ د امنيت ټينګښت د نظامونو په لومړيتوبونو کې قرار لري. هغه امنيتي او عدلي ادارې به زياتې برلاسې او کاميابه وي چې د جرمونو د کشف، پېژندنې او تثبيت په رابطه يې تجربې او مهارتونه زيات او اړونده پرمختللو وسايلو ته لاسرسی ولري.

شيخ الحديث مولوي نورالحق انور زياته کړه؛ زموږ په زمانه کې جرمونه د نوعيت له پلوه پرمختللي او پېچلي دي، د رسيدګۍ په خاطر د نويو وسايلو او پرمختللو تکنالوژيو استفادې ته اړتيا ده.

د يادونې وړ ده چې د بيولوژي او ډي ان اې لابراتوار کې به د جنايي او عدلي تحقيقاتو چټکوالی، تر شک لاندې کسانو د ډي ان اې پروفايل پرتله، د پېښې ځای ښخه د انساني هويت چټکه پېژندنه او نورو بېلابيلو برخو کې به اسانتيا رامنځته کړي، دا د نوعيت په لحاظ د اړونده ادارو نوښت او د ستاينې وړ اقدام دی. تمه شته چې د امنيت د ښه ټينګښت برخه کې به د اټکل مطابق د پام وړ مثبتې پايلې ولري.

ياده غونډه چې د قرانکريم په تلاوت پيل شوې وه؛ د خير په دعاء سره پای ته ورسېده.

# برنامه آموزش عملی سیستم تدارکات الکترونیکی

## برای کارکنان ٦٤ اداره امارتی برگزار شد

برنامه آموزش عملی سیستم تدارکات الکترونیکی (AGEOPS) برای ٦٤ تن از کارکنان ادارات امارتی مرکزی و ولایتی توسط آمریت سیستم تدارکات الکترونیکی ریاست تدارکات ملی اداره امور در انستیتوت خدمات ملکی، برگزار گردید.

در این برنامه آموزشی تمام مراحل روند تدارکات از ترتیب پلان تدارکاتی گرفته تا اعلان داوطلبی، ارزیابی آفرها، عقد قرارداد و ثبت آن به‌صورت عملی از طریق tenders.ageops.af به اشتراک‌کنندگان آموزش داده شد. همچنان به اشتراک کنندگان در مورد نحوه استفاده از بخش‌های مختلف سیستم، روش‌های شفاف تدارکاتی و تجربه‌های عملی رهنمودهای لازم ارائه گردید

هدف از برگزاری این برنامه آموزشی ارتقای ظرفیت تخنیکی کارمندان، تطبیق مؤثر سیستم تدارکات الکترونیکی و تقویت شفافیت، سرعت و پاسخگویی در پروسه های تدارکاتی عنوان شده است.

## د بریښنايي تدارکاتو سیستم له لارې د ۱۶۰ میلیارده افغانیو په ارزښت پروژې مدیریت او پلې شوې

د چارو ادارې عمومي ریاست د ملي تدارکاتو ریاست د ۱٤۰٤ هـ.ش مالي کال په ترڅ کې د بریښنايي تدارکاتو (AGEOPS) سیستم له لارې د شاوخوا ۱۶۰ میلیارده افغانیو په ارزښت تدارکاتي پروژې او خدمات په بریالیتوب سره مدیریت او پلي کړي دي.

پنجشنبه، ۲۳ محرم الحرام / ۱۸ سرطان

د ملي تدارکاتو ریاست مسؤولین وايي: دغه لاسته راوړنه د بریښنايي تدارکاتو سیستم د اعتبار، اغېزمنتیا او پراخې کارونې څرګندونه کوي او د ملي سرچینو د اغېزناک مدیریت، د امارتي تدارکاتي پروسو د روڼتیا، حساب ورکونې او مالي سپما په برخه کې یو مهم ګام ګڼل کېږي.

د یادونې وړ ده، چې د چارو ادارې عمومي ریاست د ملي تدارکاتو ریاست د بریښنايي تدارکاتو سیستم امریت د ملکي خدمتونو په انستیتیوټ کې د ٦٤ مرکزي او ولایتي امارتي ادارو کارکوونکو لپاره عملي روزنیز پروګرام هم ترسره کړی، چې ګډونوالو پکې د بریښنايي تدارکاتو سیستم د کارونې اړینې عملي زده کړې ترلاسه کړې دي.

# رئیس عمومی اداره امور: اعلان تخفیف‌های مالیاتی باعث توسعه فعالیت‌های اقتصادی می‌شود

یکشنبه، ۲۶ محرم‌الحرام ۱۴۴۸ هـ.ق / ۲۱ سرطان ۱۴۰۵ هـ.ش

نشستی پیرامون تخفیف‌های مالیاتی توسط وزارت مالیه با حضور شیخ‌الحدیث مولوی نورالحق انور، رئیس عمومی اداره امور، مولوی عبدالسلام حنفی، معاون مالی و اداری مقام عالی ریاست‌الوزراء، ملا محمد ناصر آخند، وزیر مالیه و شماری از مسئوولان و سرمایه گذاران برگزار شد.

شیخ‌الحدیث مولوی نورالحق انور، رئیس عمومی اداره امور در این نشست گفت: مردم، شهروندان و سرمایه‌گذاران می‌خواهند که پرداخت مالیاتی آنان معقول و شفاف باشد. اکنون این مسئوولیت حکومت‌ها است که عواید مردم را به‌گونه‌ای عادلانه و معقول جمع آوری کنند. در توزیع آن عدالت را رعایت نمایند و در راستای مصالح ملی و اجتماعی و همچنان در عرصه تأمین امنیت، استحکام، پیشرفت و ترقی کشور به مصرف برسانند.

وی افزود: طوریکه وزارت مالیه در بعضی بخش ها سیستم‌ها را فعال کرده است؛ شفافیت بهتر، سهولت، سرعت و اعتماد بیشتر زمانی به وجود می‌آید که سایر ادارات و همچنان مالیه دهندگان نیز سیستم‌های خویش را تنظیم کرده و با سیستم‌های وزارت مالیه وصل نمایند.

رئیس عمومی اداره امور افزود؛ اعلام تخفیف های مالیاتی از بخش خصوصی، سرمایه‌گذاران و مالیه دهندگان حمایت می‌کند، فعالیت‌های اقتصادی را توسعه می‌بخشد و فرصت های جدیدی را برای رشد تجارت فراهم می‌سازد.

این نشست که با تلاوت قرآن‌کریم آغاز شده بود، با دعای خیر به پایان رسید.

# د چارو اداري عمومي رياست

## د سرمايه‌گذارۍ د تسهيل رئيس هرات ولايت ته سفر وکړ

د چارو اداري عمومي رياست د سرمايه‌گذارۍ د تسهيل رئيس، مولوي انجنير احمدضياء خالد په مشرۍ د ماليې، کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ، کور او ښار جوړولو وزارتونو، صنعت او سوداګرۍ او همدارنګه د صنايعو او کانونو خونو د استازو په ګډون يو پلاوي د هېواد په بندرونو کې سوداګرو ته د اسانتياوو رامنځته کولو په موخه شنبې ورځ د غبرګولي ۲۰مه هرات ولايت ته سفر وکړ.

د ياد سفر پر مهال مولوي انجنير احمدضياء خالد د هرات له والي، شيخ نوراحمد اسلامجار سره وکتل او زياته يې کړه چې د دې سفر موخه د هېواد په بندرونو کې پانګوالو ته د لا زياتو اسانتياوو برابرول دي.

ورپسې د هرات والي، شيخ نوراحمد اسلامجار، د يادې موضوع په اړه خپل نظرونه شريک کړل او د هر اړخيزې همکارۍ ډاډ يې ورکړ.

ټاکل شوې ده چې دغه پلاوی د تورغنډۍ، اسلام‌کلا او د نيمروز ولايت له بندر څخه هم ليدنه وکړي. د يادو اسانتياوو رامنځته کولو لګښت به د خصوصي سکټور د ملاتړ له صندوق څخه تمويل شي.

# رئیس عمومی اداره امور از مدرسه جهادی ولایت میدان وردک دیدن کرد

شیخ‌الحدیث مولوی نورالحق انور، رئیس عمومی اداره امور، روز سه‌شنبه، ۲۸ محرم‌الحرام در جریان بازدید از مدرسه جهادی ولایت میدان وردک، با استادان این مدرسه دیدار کرد و در مورد مؤثریت روند آموزشی، طرح‌ها و پیشنهادهای ترتیب شده جهت توسعه فعالیت‌های اصلاحی و علمی مدرسه به‌صورت همه‌جانبه بحث و تبادل نظر نمود.

در جریان این نشست رئیس عمومی اداره امور برای طلاب مدرسه جهادی ولایت میدان وردک سخنان اصلاحی را ایراد کرد و آنها را تشویق نمود تا با روش‌ها، میراث علمی و خدمات بزرگان خویش آشنا شوند، راه علمی و عملی آنها را تعقیب نمایند، به توصیه های والدین و استادان توجه نمایند، از نشست‌ها و مجالس بی‌فایده دوری کنند و از وقت خود در امور مفید علمی و دینی استفاده کنند.

وی همچنان افزود که طلاب باید در زمینه‌های تدریس، خطابت، امامت، دعوت، تصنیف، نظامداری و خدمات سودمند توانایی‌های لازم را در وجود خود پرورش دهند.

در پایان رئیس عمومی اداره امور در زمینه حل مشکلات و بهبود امور مدرسه جهادی ولایت میدان وردک، به استادان این مدرسه اطمینان همکاری لازم را داد.

# نیمروز ولایت کې د سوداګرۍ او پانګونې کمپلکس لپاره د لس جریبه ځمکې تثبیت

د چارو اداري عمومي ریاست د سرمایه‌ګذارۍ د تسهیل رئیس مولوي انجنیر احمد ضیاء خالد په مشرۍ، د مالیې، کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ، ښار او کور جوړونې، صنعت او کانونو وزارتونو او د سوداګرۍ او پانګونې خونو د استازو څخه جوړ شوي پلاوي د چهارشنبې په ورځ، د چنګاښ ۲٤مه، نیمروز ولایت ته د سفر پر مهال د دغه ولایت له والي مولوي عبدالمنان محمود سره وکتل.

یاد پلاوي د سفر پیل کې د نیمروز ولایت له والي سره وکتل او د دغه سفر موخې او پروګرامونه یې تشریح کړل. د نیمروز والي د یاد پروګرام د هرکلي ترڅنګ، سوداګرو او پانګوالو ته د خدمتونو د ښه والي لپاره د ترسره شویو هڅو ستاینه وکړه او د ولایت اړوندو سکتوري ریاستونو ته یې لارښوونه وکړه، تر څو د اړتیا وړ ځمکو د تثبیت بهیر ژر تر ژره عملي کړي.

د همدې لارښوونې په تعقیب، د نیمروز ولایت مسؤولینو د سوداګرو او پانګوالو لپاره د ځانګړي خدماتي کمپلکس د جوړولو په موخه لس جریبه ځمکه تثبیت کړه او د قانوني لړبهیر به هم پیل شي.

د وړاندې شوې طرحې له مخې، تاکل شوې ده چې په یاده ساحه کې د خصوصي سکتور د ملاتړ صندوق له بودجې څخه د خدماتو واحد مرکز، جومات، هوټل، استراحت ځای او رستورانت جوړ شي، ترڅو د نیمروز بندر کې د غوره خدمتونو وړاندې کولو او د سوداګریزو او پانګونې فعالیتونو د اسانتیا لپاره زمینه برابره شي.

د یادونې وړ ده چې مولوي انجنیر احمد ضیاء خالد د دغه سفر په ترڅ کې نیمروز ولایت کې د ودانیزو چارو له پرمختګ او د سکنر دستګاوو د نصب له بهیر څخه هم کتنه وکړه او د دغو پروژو د چټک بشپړېدو پر اړتیا یې ټینګار وکړ.

# جلسه تعقیبی به منظور تطبیق فرمان شماره ۱۷

## عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی برگزار شد

پنجشنبه، اول صفرالمظفر /۲۵ سرطان

چهارمین جلسه تعقیبی به منظور تطبیق فرمان شماره ۱۷ عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی، تحت ریاست مفتی احسان‌الله بدر، رئیس مطبوعات اداره امور، با اشتراک معینان و نمایندگان وزارت‌های امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات، تحصیلات عالی، معارف، امور داخله، ارشاد، حج و اوقاف، اطلاعات و فرهنگ، امور سرحدات و قبایل، لوی ریاست نظارت و تعقیب احکام و فرامین، رئیس پلان، ارزیابی و تحلیل گزارش‌های امارت و معاون ریاست مطبوعات این اداره، برگزار شد.

در آغاز این نشست، مفتی احسان‌الله بدر، رئیس مطبوعات اداره امور، پیرامون اهمیت تطبیق همه جانبه فرمان شماره ۱۷ عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی و نتایج عملی آن صحبت کرد.

وی افزود که همزمان با آگاهی‌دهی در مورد فرمان شماره ۱۷، ارزیابی نتایج عملی تطبیق آن نیز ضروری است و کمیته مرکزی ایجاد شده از ادارات ذیدخل، نتایج عملی تطبیق این فرمان را نیز جداً تعقیب می‌نماید.

در ادامه، نمایندگان ادارات به ترتیب، فعالیت‌های انجام‌شده از تاریخ صدور فرمان الی اکنون را تشریح کردند و پلان‌های خویش را برای سال آینده نیز با اعضای جلسه شریک ساختند.

در اخیر، فیصله گردید تا فارمت تهیه شده به هدف جمع‌آوری نتایج عملی تطبیق فرمان با تمامی ادارات ذیدخل شریک ساخته شود. همچنان پلان تطبیقی به هدف جلوگیری از رسم و رواج‌های نادرست ترتیب و جهت نهایی‌سازی با اعضای جلسه شریک گردد.

این جلسه که در تالار جلسات اداره امور برگزار گردید، با تلاوت آیات قرآن کریم آغاز و با دعای خیر پایان یافت.

# د چارو ادارې عمومي رئیس: خلکو ته باید خدمتونه وړاندې او اسانتیاوې رامنځته شي

د چارو ادارې عمومي رئیس شیخ‌الحدیث مولوي نورالحق انور، د اداري پروسو ساده‌کولو د مهارتونو روزنیز پروګرام کې، چې د وزارتونو او امارتي ادارو د اداري پروسو د ساده‌کولو د کمېټو غړو لپاره جوړ شوی و، ګډون او وینا وکړه.

د ۱۴۴۸ هـ.ق کال صفر المظفر لومړی/ ۱۴۰۵ هـ.ش کال چنګاښ ۲۵مه

د چارو ادارې عمومي رئیس شیخ الحدیث مولوي نورالحق انور وویل: د نظام د مکلفیت خلاصه دا ده، چې خلکو ته خدمتونه وړاندې، آسانتیاوې رامنځته او په سمه توګه یې حقوق ورکړل شي، په تېرو څو لسیزو کې د ډېرو ستونزو برسېره یوه لویه او دوامداره ستونزه دا وه چې تېرو نظامونو کې هېڅ توجه نه ده ورته کړې، بلکې بر عکس یې د ستونزې جوړولو کې په زغرده قدم اخیستی، چې پایله کې یې پروسې زیاتې شوي او سختې شوې دي.

د چارو ادارې عمومي رئیس وویل: ډېرې پروسې داسې دي چې د افغانستان جغرافیې او بالخصوص د اسلامي ټولنې سره یې ربط نه لاره، رائجېدل یې هم د روښتیا او معیاریتوب په بنیاد نه بلکې د ناسمو غرضونو په خاطر شوي، چې الحمد لله اوس د نظام او هېواد په کچه د چارو د ساده کولو انګیزه ورځ تر بلې پیاوړې کېږي چې موږ او تاسو یې شاهدان یو او دا د نظام او هېواد لپاره ګټور او په زړه پورې اقدام ګڼلای شو.

د یادونې وړ ده چې دغه روزنیز پروګرام د روان کال د چنګاښ له ۲۰مې تر ۲۵مې پورې د وزارتونو او امارتي ادارو د اداري پروسو د ساده کولو د کمېټو غړو لپاره جوړ شوی و.

غونډه چې د قران کریم په تلاوت پیل شوې وه د خیر دعاء سره پای ته ورسېده.

# رئیس تسهیل سرمایه گذاری از فابریکه های تولیدی هرات باز دید کرد

مولوی انجنیر احمد ضیاء خالد، رئیس تسهیل سرمایه‌گذاری اداره امور به ادامه سفرش به ولایات غربی کشور، روز پنجشنبه، ۲۵ سرطان، از فابریکه‌های تولیدی سنگ ماربل شیت، پی‌وی‌سی و فابریکه تولید بطری گرین انرژی پلس در ولایت هرات بازدید کرد.

رئیس تسهیل سرمایه‌گذاری اداره امور از فعالیت‌های این فابریکه‌ها قدردانی نمود و عملکرد آنان را در رشد تولیدات داخلی و بلند بردن اقتصاد کشور حیاتی خواند.

به گفته مسؤولان فابریکه های تولیدی سنگ ماربل شیت و پی‌وی‌سی، این فابریکه‌ها با سرمایه‌گذاری پنج میلیون دالر، روزانه بیش از ۷۰ ماربل شیت تولیدات دارد و حدود ٦٠ تن در آن مصروف کار هستند.

از سوی دیگر مسؤولان فابریکه تولیدی بطری گرین انرژی پلس نیز می گویند، این فابریکه با سرمایه گذاری سی میلیون دالر ایجاد شده است که در آن بیش از ٥٣٠ تن کارگر مشغول کار اند و روزانه ٤هزار بطری تولیدات دارد.

# ورځنۍ د عقيدې مسئله

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو ادارې عمومي رياست
د مطبوعاتو رياست

د مسلمان **عقيده**
۱۵۹

«وَعَلى العَبْدِ أَنْ يَعْلَمَ أَنَّ اللَّهَ قَدْ سَبَقَ عِلْمُهُ في كُلِّ شَيْءٍ كائِنٍ مِنْ خَلْقِهِ».

ژباړه: «پر بنده لازمه ده چې پوه شي: ببشکه الله تعالی په خپل ازلي علم سره، په خپل مخلوق کې پر هر رامنځته کېدونکي شي له مخکې علم لري».

www.aop.gov

# حديث روز

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو ادارې عمومي رياست
د مطبوعاتو رياست

روز **حديث**
۴۶۴

عن عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ ـ رضي الله عنهما ـ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - ﷺ -:

«كل شيء بقدر، حتى العجز والكيس، أو الكيس والعجز».

[صحيح مسلم: ٤/ ٢٠٤٥، رقم الحديث: ٢٦٥٥].

ترجمه: از عبدالله بن عمر رضی الله عنهما روايت است که گفت، رسول الله ﷺ فرمودند: «هر چيز بر اساس تقدير الله متعال است، حتی ناتوانی و هوشياری (انسان)؛ يا فرمودند: هوشياری و ناتوانی نيز».

www.aop.gov.a

”“

اسلامي امارت د خلکو لپاره یو نعمت دی او په ټولو برخو کې یې متوازن پرمختګ کړی دی.
اسلامي امارت په هېواد کې امن راوستی، چې له امله یې علم ته ښه زمینه برابره شوې ده.
هېوادوال باید خپل ماشومان د علم زده کړې ته واستوي.

**شیخ الحدیث مولوي نورالحق انور**
**د چارو ادارې لوی رئیس**